د افغانستان اسلامی جمهوریت
د مخابراتو او معلوماتي ټکنالوژۍ وزارت

جمهوری اسلامی افغانستان
وزارت مخابرات و تکنالوژی معلوماتی

Islamic Republic of Afghanistan
Ministry of Communication and IT
دمقام د دفتر ریاست
د ویاند دفتر |دفترسخنگوی | Office of the Spokesman

# مطبوعاتي خبرپاڼه

نېټه: د ۱۳۹۷ د لېندی ۵ مه

موضوع: د بررسۍ د عالي اداري راپور په اړه د مخابراتو او معلوماتي ټکنالوجۍ وزارت لیدلوری

په دې وروستیو کې د بررسۍ عالي اداري یو راپور نشر کړی چې له مخې یې د ۱۳۹۶ کال په پرتله په ۱۳۹۶ کال کې د عوایدو کمښت په ډاګه کېږي چې د مخابر اتو او معلوماتي ټکنالوجۍ وزارت ددغه راپور په اړه داسې نظر لري:

۱ :ددغه راپور له خپرېدو وړاندې د بررسۍ محترمې اداري د معلوماتو د کره والي او په عوایدو او ارقامو کې د تغیراتو د څرنګوالي په اړه د مخابراتو او معلوماتي ټکنالوجۍ وزارت سره همغږي نه ده کړې.

۲ :د کره شمېرو له مخې په ۱۳۹۶ کال کې د ۱۳۹۵ کال په پرتله د لس سلنه مخابراتي خدماتو د عوایدو له لارې د مخابراتو او معلوماتي ټکنالوجۍ وزارت عوایدو کې ۴۲ میلیونه افغانۍ زیاتوالی راغلی، مګر په زنبق څلور لارې کې د درنې چاودنې له کبله د روشن مخابراتي شرکت ته زیانونه واوښتل. په دغه کال کې په یاد شرکت (442000000 افغانۍ) مطالبات پاتې شول، خو یاد شرکت ژمنه کړې چې د روان کال تر پایه به خپل ټول تادیات ورکوي.

له دې کبله د مخابراتو او معلوماتي ټکنالوجۍ وزارت په ۱۳۹۶ کال کې 4270593058 عواید درلودل په داسې حال کې چې په روشن مخابراتي شرکت باندې د وزارت (442000000 افغانۍ) مطالبات حاصل شي، په ۱۳۹۶ کال کې ټول عواید 4712593058 افغانیو ته رسېږي، خو په ۱۳۹۵ کال کې د مخابراتو او معلوماتي ټکنالوجۍ وزارت ددغه فیس له درکه عواید 4288791728 افغانۍ وې او په ۱۳۹۶ کال کې د زیاتوالي ښکارندوی دي.

د مخابراتو او معلوماتي ټکنالوجۍ وزارت په شفافه توګه د عوایدو ټولنې ته ژمن دی او همېش د هېواد د نافذه قوانینو په رڼا کې د خلکو، ټولنې او دولت پر وړاندې خپل ځان مسؤول او ځواب ویونکی حسابوي.

د زیاتو معلوماتو لپاره زموږ وېب پاڼې ته مراجعه وکړئ: www.mcit.gov.af